دي مشاهدو نه ثابته شوه چې صدیق هم د دغه کورنۍ
شاعر دے د خوشحال بابا نوم په احترام سره سکه د هغهٔ د ژامنو
په خان په شعر کښې اخلي لور چاکهٔ ذکر کړے نو خوشحال ئې یاد کړے
خو خپلو زامنو او ورېرونو د خان په نامه یاد کړے چې په دغه کښې
د خپل سکه ورور جمال خان زوې صدیق ئې هم د خان په نوم یاده وي
د خپل خاندانې رقابت په وجه د مغلو سپکه او نفرت په خپلو
شعرونو کښې ښکاره دي او د دغه نفرت په وجه هغه پښتنو
ته هم سپک ګوري کوم چې د مغلو نمک خواره دي سکه په خپل یو غزل
کښې په صفحه ۱۰۷ باندې لیکي

تو ره شړی به ده ننګ نیمه په سر
ورک شه د مغلو د بخشش مندیل په سر
واره پوهې شول پښتانهٔ چې پسې د غلي
ننګ وته ئې شا کړه له مغلو غواړي زر
حق پښتنو دے کهٔ اوس بیا د ننګ د پاره
شُو په شهزاده کا د غه تور خوني په سر
شو
روان دي زهٔ هلک وم چې پرې دوب محمد امین
ښهٔ ښهٔ شهیدان وو چې پر مغول شول پرې دبر
هیڅ نهٔ دي نابوده یوسفزي د ننګ په کار کښې
نوم ئې د زمري دے تر شمال دي لا بستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنې که منصب خوري خوار کوړ په خپل وطن دي
پسې شو د مغولو حمزه کوره ګیر ي خس
حال د پښتنو د ننګ په کار کښې را ښکاره شو
واړه هیڅ کاره نه بې حیا نا مرد بشن

په دې شعرونو کښې یې زیات رنګ د خوشحال بابا د خیال ښکارې صدیق هم د هغه پښتو غند نه کړې ده کوم چې د مغولو په سرو سپینو پسې منډې وهلې او خپل ننګ یې په هغوې خرڅ کړے وو او د دې شعر نه یې خو هغه خاندانې جذبه غیرت ښکارېږي او په دې وخت ارمان کوي چې

نه مومند اپمل شته نه خوشحال دریا شته
نه د بنګر غلجي - له پښتنو خالي شو غر

او د غه شان د خپل ننګیال توریال تره خوشحال بابا وینه د صدیق په رګونو کښې تېره شوې ده او صدیق هم د میړني خلقو ستاینه کړې ده په دې حقله څېړونوال دوست محمد شینواري په خپله سریزه کښې لیکي -

په کلاسیکي ادب کښې صدیق د نورې پوړې شاعر دے په اشعارو کښې یې ډېر داسې غزلې شته چې په نازک خیالۍ کښې د حمید او شید شعارو استوول دي د شان د پاده د دیوان په غزل ۱۰۹، ۳۰۹ کتلے شئ خو صدیق باندې د خوشحال رنګ زیات یو دے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي صدیق د توري مېړنتوب شجاعت ستېن شاعرو دے لکه وائي

مېړنې په مېړنتوب سره یادېږي
د نامردو کله څوک وائي سندري
د زمري نامه پرې کېږده نوی ځځه وي
ځوان به ځان کاندي د تورو په مېدان غوځ

څنګه چې ارواښاد حبیبي او ارواښاد دوست محمد شینواري ویلي دي چې صدیق د تصوف او سلوک نه اشنا وو صوفي شاعر هم وو خو د لته کښې موږ ګورو چې صدیق د واقعي د تصوف او سلوک د دورونو نه تېر شوے وو د هغه صوفیانه شاعري که او کتے شي نو د شعرونو نه معلومېږي چې صدیق مریدي تصوف هم کړے دو یعنې صدیق د یو کامل پیر نه بیعت هم کړے وو او مریدي یې اختیار کړې وه لکه دا لاندېني شعرونه موږ ته ښائي -

هر چا وته خوږه تریخي شکر دي
د صدیق وئیل د پیر له برکته
د مرید تعظیم د پیر عزت طلب دے
د استاد طلب نه ئې مردوده
تمامي قباحت دا وي که باور کړه
چې مرید د خپله پیره شي مردود

او د غه شان د دیوان په صفحه ۲۵۰ وائي -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان د اولادې هم تربیت کړے او وخت په وخت ئې زامن هم سجاده نشین پاتې شوي او د تصوف، سلوک، مختلف درجاتو نه تېرشوي او شاعرۍ ئې هم د تصوف په رنګ کښې رنګ ده لکه په یو غزل کښې وائي

چې خبر په اسرار نهٔ شي د هو هو
په هغو بدېږو د هر چا شه تو تو
له اوله پرې د قتل فتوې زهٔ کړم
د غافلو په غزا کړ ځي رو رو
څوک غافل خاموشه ناست وي مستغرق شو
څوک فاخته غوندې نارې کړه په کو کو
بې افتابه ذره چا لیدلې نهٔ ده
ښکاره وي د نمر په مخ سره یو یو
د ستا مخ زما د سترګو منظرګاه دے
ستا مخ په اور مې سترګې شوې لو لو
بې دردان به اهل درد نهٔ شي براهیمه
مرچې زړې کهٔ په سل حُله کړې فو فو (۵)

د عبدالقادر خان خټک یو غزل هم په دې قافیه باندې لیکلے شوے دے.

---

۵- رضا محمد افضل پټ ستورې پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون ۱۹۸۴ ص ۴۹۷



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کوم ځاے به پاتې شنه،
ما به ځان ځنے بیل بښکوونه

چې میزان خلاصېدو روره
دېر لغات جمع شو کوره
ماورے پاتې ګران لغات شو
زده کول ئې ضروریات شو

یوسف زي کښې حکیمان وو
مشهور چې څوک عیان وو
مالره هر یو نه پرسان کړو
دوي په هر یو دا بیان کړو

دا لغات مشهور ګران دي
عربي - فارسي - یونان دي
دا پرېږده په ورانډې څه ته
زیاتې رسېږي مه کوه ته

زړه زما شو دېر پرېشانه
ګرځېدم به سرګردانه
حکیم نه وه په دا شانے
چې کامل وي طب کښې جانے

نیت مې اوکړو د سفر
لازم شهر ته مې رابر



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

